# رغونه

اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د جمادي الأول ۱۱ مـــه، ۱۴۴۷ هـ.ق

لړم/عقرب ۱۱مه، ۱۴۰۴ هـ.ش کال

لومړی کال، پرله پسې ۳۷مه ګڼه

د افغانستان اسلامي امارت

د چارو اداري لوی ریاست

د مطبوعاتو ریاست


## په دې ګڼه کې لولئ:


بغلان — په مرکزي بغلان کې د نوي کانکریټي سړک د جوړولو له چارو څارنه او ارزونه وشوه

هرات — د شپږمې ناحیې اړوند انجیل ویالې ته څېرمه د جادې د کانکریټ کولو پروژې چارې ۶۰ سلنه مخته تللې

کندهار — کندهار ښاروالۍ د پنجوایي دراهي سړک رغنیزې چارې په چټکۍ روانې دي

کندهار — کندهار ښاروالۍ د احمدشاهي جادې د پراختیا چارې پیل کړې

هرات — دریمې ناحیه کې د انجیل ښاروالۍ اداري ودانۍ د چت کانکریټ کولو چارې په چټکۍ سره روانې دي

غزني — غزني ښار د حیات اباد سړک د کانکریټ چارې بشپړې شوې

غزني — غزني ښاروالۍ ریاست له ۳۲۷ کسانو څخه ازموینه وا خیستله

هرات — هرات ښاروالۍ د پنځلسمې ناحیې اړوند د کاریزک څخه د شیدایي تر بازاره پورې د کانال د جوړولو پروژې چارې روانې دي

ننګرهار — جلال اباد ښاروالۍ دریمه ناحیه کې د ویالو د بیارغونې چارې جریان لري

ننګرهار — جلال اباد ښاروالۍ دریمه ناحیه کې د سړک د اسفالټ (قیرریزۍ) چارې جریان لري

هلمند — خلورمه حصه کې د مهم سړک هوار کاري بشپړ او د ترافیکو پر مخ پرانیستل شو

روزګان — ترینکوټ ښاروالۍ د ښار په څلورمه ناحیه کې د څه باندې ۹ میلیونو افغانیو په ارزښت د سړک غاړو ویالو اساسي چارې پیل کړې


## د جلال اباد ښاروالۍ دریمه ناحیه کې د ۴،۴ میلیونو افغانیو په ارزښت د سړک د اسفالټ (قیرریزۍ) چارې پیل شوې




## خوست ښاروالۍ درې نیم ټنه تاریخ تېر توکي وسوځول




## مرکز تجارتی زیرزمینی "مزارمال" با سرمایه گذاری ۲۴۷ میلیون افغانی در شهر مزارشریف افتتاح شد



نشست شبکه ولایتی شاروالی‌ها در سالون جلسات شاروالی تالقان ولایت تخار، با حضور آمر حکومتداری شهری، شاروالان ولسوالی‌ها و نمایندگان شاروالی های ولایت تخار برگزار گردید. در این نشست، درباره اهمیت تقویت همکاری میان شاروالی‌ها و ارتقای ظرفیت‌ها بحث و تبادل نظر صورت گرفت.در ادامه، قاری محمد خلیل شاروال اشکمش و سایر شاروالان پیرامون چالش‌ها، دست‌آوردها و راهکارهای بهبود عملکرد شاروالی‌ها تبادل نظر کردند. در این نشست همچنان مشکلات مشترک بررسی و برای حل آن پیشنهاداتی ارائه شد.



تخار ۱

## د تخنیکي او مسلکي زده کړو مسؤولینو خوست ښاروال سره وکتل


خوست ۲

د خوست ولایت د تخنیکي او مسلکي زده کړو ولایتي امر مولوي عمر عمري او ورسره مل پلاوي د خوست ښاروال حافظ عبدالرشید عمري سره وکتل.

د لیدنې پر مهال مولوي عمر عمري نوي ښاروال ته د دندې مبارکي ورکړه او د ښار د پرمختګ، ښاري خدمتونو او د ځوانانو د مسلکي روزنې په برخه کې یې د دوه اړخیزو همکاریو پر پیاوړتیا ټینګار وکړ.

## په مرکزي بغلان کې د نوي کانکریټي سړک د جوړولو له چارو څارنه او ارزونه وشوه


بغلان ۳

د مرکزي بغلان ښاروالۍ مسؤولین وایي چې د ښار د ټرافیکي اسانتیاوو، ښاري نظم او ښکلې بڼې رامنځته کولو په هدف د پښتونستان له څلورلارې تر دوسرکې پورې د سړک د کانکریټ کولو چارې په چټکۍ روانې دي.

## د غزني ښاروالۍ د دویمې ناحیې اړوند د ده‌خدایداد ویالې د پاکوالي او د کثافاتو د انتقال پراخ بهیر ترسره شو


غزني ۴

یاده چارې د غزني ښاروالۍ د تنظیف مدیریت له‌خوا د ناحیې د کارکوونکو او د پاکوالي ټیم په هڅو ترسره شوې چې په ترڅ کې د ویالې له منځه ختي پلاستیکي کڅوړې چټل مواد او نور بندښتونه لرې او اړوند ځایونو ته انتقال شول.

جلسه آفرگشایی پروژه نصب چراغ‌ها جهت تنویر سرک عمومی کابل-پروان که از ساحه کشمش‌پاکی تا سرک هوفیان شریف می‌باشد، تحت نظارت شاروال چاریکار و هیئت آفرگشایی با حضور شرکت‌های داوطلب برگزار گردید و داوطلبان از شفافیت آفرگشایی ابراز خرسندی کردند و شرکت برنده اعلام خواهد گردید.


پروان ۵

## ښاري پلانونو شریکولو لړۍ دوام لري

د عالي‌قدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی د شلم ګڼه فرمان له مخې، د کندهار ښاروالۍ د ښاري پلانونو امریت د ښاري طرحو او نقشو د عامه شریکولو لړۍ پر دوام بوخته ده.

په همدې لړ کې، د تېرې اونۍ په جریان کې د ښار له بېلابېلو ناحیو څخه راغلو ۱۵ تنو مراجعینو ته د ماستر پلان، تجارتي، رهایشي، شنو او خدماتي ساحو په اړه مفصل معلومات ورکړل شول. همداراز هغو کسانو ته چې د پلانونو د تطبیق په اړه یې اندېښنې یا شکایتونه درلودل، وضاحت ورکړل شو او د ستونزو د حل لارې ورسره شریکې شوې.

کندهار ښاروالۍ ټولو ښاریانو ته ډاډ ورکوي چې د خپلو سیمو د نقشو او پلانونو معلومات پرته له کوم قید او شرط څخه، د ښاري پلانونو امریت له لارې تر لاسه کولای شي.

یادونه: انځور د دریمې ناحیې ماسترپلان دی.

کندهار ۶

## د پنځمې ناحیې اړوند مېرمن حیاتي او امیر علي شیرنوایي جادو د کانکریټ کولو پروژې چارې د قراردادي شرکت له لوري روانې دي


هرات ۷

دغه پروژه ۱۰۱٦ متر اوږدوالی او ۸ متر عرض لري، چې د ۲۰۷ متر په اوږدوالي د کانال د جوړولو په ګډون د ٦ میلیون افغانیو په لګښت د قراردادي شرکت له لوري روانې دي. د ویلو ده چې؛ د هرات ښاروالۍ ادارې د اړوند برخو مسؤولینو او انجنیران وخت په وخت په دوامداره او منظم ډول د ټولو پراختیایي پروژو د چارو له بهیره څارنه او کنټرول ترسره کوي، ترڅو د پروژو چارې په وخت وخت او لوړ کیفیت بشپړې شي.

## د محمودراقي ښاروالۍ له خوا د ده‌باباعلي د شنبې بازار څخه کنټرول او څارنه ترسره شوه


کاپیسا ۸

د بازارونو د منظمې څارنې او کنټرول د لړۍ په دوام، د محمودراقي ښاروالۍ کارکوونکو له خوا نن د ده‌باباعلي شنبې بازار څخه څارنه ترسره شوه.

یاده څارنه د ښاري نظم ټینګښت، د چاپېریال پاکوالي، او د ښاري اصولو د تطبیق په موخه تر سره شوه.

## د شپږمې ناحیې اړوند انجیل ویالې تــه څېرمه د جادې د کانکریټ کولو پروژې چارې ٦۰ سلنه مخته تللي


هرات ۹

د جادې د کانکریټ کولو دغه پروژه د هرات شپږمې ناحیې اړوند د (٦، ۱۲، ۱۴ او ۱۵) ګذرونو مربوط ده، چې ۱۹۰۰ متر اوږدوالی او ۸ متر پلنوالی لري، چې د اړتیال وړ پلچکونو د جوړولو په ګډون د دغې اداري پرمختیایي بودجې څخه د شاوخوا ۱۷ میلیون افغانیو په ارزښت د پلې کېدو په حال کې ده.

## د جلال‌اباد ښاروالۍ دریمه ناحیه کې د ۴،۴ میلیونو افغانیو په ارزښت د سړک د اسفالټ (قیرریزۍ) چارې پیل شوې



ننګرهار ۱۰

د جلال‌اباد ښاروالۍ د داخلي عوایدو په مرسته د روان ۱۴۰۴ مالي کال د پراختیایي پروژو په لړ کې د دریمې ناحیې اړوند د عربانو ګولایي څخه تر داودزي پلازې پورې د ۴،۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د سړک اسفالټ (قیریزۍ) چارې پیل شوې.

د یادې پروژې د پرانیستې په مراسمو کې د جلال‌اباد ښاروال، د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس انجینر، د ساختمان امر د ښاروالۍ مسؤولینو ګډون کړی وو.

د جلال‌اباد ښاروال؛ ښاروالۍ د ۱۴۰۴ مالي کال د پروژوي خدمتونو په تړاو معلومات ورکړل او ډاډ یې ورکړ چې د ښاریانو څخه ترلاسه شوي عواید بېرته په ښار کې په پراختیایي پروژو مصرفوي.

په دغه پروژه کې د ۸۸۰ مترو په اوږدوالي او ۱۴ مترو په لنډوالي د سړک قیریزي او د ۱۵۰ مترو په اوږدوالي د ویالو بیا جوړونه شامله ده. چې په نږدې راتلونکي کې به یې کارونه بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د جلال‌اباد ښاروالۍ په روان ۱۴۰۴ مالي کال کې ۳۵ لویې او وړې پروژې د شاوخوا ۵۵۰ میلیونو افغانیو په ارزښت پلان کړي چې په تدریجي ډول به په بېلابېلو ناحیو کې پلي شي.

**شاروالی پلخمری ولایت بغلان، روند جمع‌آوری کثافات در گذر سوم ناحیه اول این شهر را به هدف حفظ نظافت و پاکی شهر، امروز شنبه (۳ عقرب ۱۴۰۴) توسط پرسونل تنظیفاتی شاروالی انجام و زباله‌ها را با وسایط باربری به خارج از شهر انتقال داده است.**



بغلان ۱۱

**کار احداث کانال جادهٔ مجیدی مربوط ناحیه ششم شاروالی هرات به طول مجموعی ٦٦۰ متر و به هزینهٔ حدود ۳ میلیون افغانی از بودجهٔ انکشافی شاروالی هرات به سرعت جریان دارد.ش**



هرات ۱۲

**کار احداث کانال جادهٔ قومانداني امنیه هرات مربوط ناحیهٔ سوم شاروالی این شهر به طول مجموعی ۵۲۰ متر، به ابعاد (۱,۳۵×۱,۱ متر) مربوط گذرهای ۱ و ۲ ناحیهٔ سوم شاروالی هرات به هزینهٔ مجموعی حدود ۳ میلیون افغانی از بودجه انکشافی این اداره جریان دارد.**



هرات ۱۳

**شاروالی بامیان به منظور مراقبت از سرک های شهر و کاهش خطرات سیلاب در نواحی مختلف شهر بامیان دیوارهای استنادی و سیلبر اعمار می نماید و از روند تطبیق پروژه های متذکره تیم تخنیکی شاروالی به صورت دوامدار نظارت صورت نموده و هدایات لازم ارائه می‌کند.**

بامیان ۱۴

**شاروالی بامیان به منظور فراهم سازی تسهیلات در رفت و آمد شهروندان و جلوگیری از تخریب سرک های شهر، سرک عمومی بازار علغله واقع ناحیه دوم شهر و سرک پیش روی هوتل بام آسیا هوتل شاروالی) واقع ناحیه اول شهر بامیان را به صورت اساسی اسفالت می نماید.**

بامیان ۱۵

**کار ذخیره آب در داخل پارک ولایت و کندن کاری مسیر پایپ ها در محدوده ای زمین های زراعتی سرآسیاب واقع گذر ۳ ناحیه اول شهر بامیان توسط شاروالی بامیان به منظور توسعه ساحات سبز و حفاظت از محیط زیست جریان دارد.**

بامیان ١٦

**شاروالی بامیان به منظور عرضه خدمات بهتر به شهروندان، تأمین امنیت کسبه کاران و فراهم سازی تسهیلات برای عابرین، سرک های شهر بامیان را با نصب چراغ های سولری تنویر می نماید.**

بامیان ١٧

## مهترلام ښاروالۍ خبرتیا!

د لغمان-مهترلام ښاروالۍ غواړي چې د لغمان اقوامو او قبایلو ریاست مخې د سړک پلې لارې، ګټارې او په یاده ساحه کې برېښنایي تنویري پایې جوړې وي، چې په داوطلبۍ کې نصرت محمدي ودانیز شرکت د جوړویدو په موخه (۱۴۳۵۱۱۹.۴) افغانۍ نرخ ورکولو سره ګټونکی شوی، که هر څوک په یاده پروسه نیوکه لري تر ۷ ورځو پورې دې خپل اعتراض مهترلام ښاروالۍ تدارکاتو او خدمتونو مدیریت ته په لیکلي ډول د دلایلو سره وسپاري.

لغمان ولایت

**کار قیرریزی سرک از چهار راهی تیل‌فروشی سابقه تا چهارراهی شهیدی شهر تالقان ولایت تخار با حضور مولوی سمیع الله حزب الله والی، مولوی عبدالغفور سیرت شاروال تالقان و شماری از مسئولان محلی رسماً افتتاح گردید.**
**آقای سیرت شاروال تالقان در مورد این پروژه گفت، قیرریزی این سرک از چهارراهی تیل فروشی سابقه الی چهارراهی شهیدی است که به طول بیشتر از ۴۰۰ متر، عرض ۲۵ متر همراه با جویچه‌های جانبی ٢٦ متر می‌باشد و شامل گلدان وسط سرک نیز است که با هزینه بیش از ٢٦ میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی تطبیق می‌گردد.**
**قرار است کار این پروژه تا پایان سال مالی جاری تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شود.**



بغلان ۱۸

## کندهار ښاروالۍ د پنجوايي دراهي سړک رغنيزې چارې په چټکۍ روانې دي



کندهار ۱۹

کندهار ښاروالۍ د اوومې ناحيې اړوند د پنجوايي دراهي سړک د اساسي رغونې چارې نږدې دوې مياشتې مخکې پيل کړي، چې دا مهال ۳۵٪ بشپړې شوې دي. ياد سړک چې ۱۱۰۰ متره اوږدوالی او ۴۰ متره پلنوالی لري، په دوو فازونو کې طرحه شوی. د لومړي فاز چارې روانې دي، چې پکې د کندنکارۍ، ويالو جوړولو، سب ګرېټ او سب‌بېس طبقو کارونه په تخنيکي معيارونو مطابق پرمخ روان دي. ټاکل شوې چې د لومړي فاز کارونه به په راتلونکو دوو مياشتو کې بشپړ شي. د دوهم فاز د کارونو د پيل لپاره هم تیاري روان دی. دغه پروژه د ښاروالۍ له پراختيايي بودجې څخه تمويلېږي، چې ټولټال ۷۰ ميليونه افغانۍ لګښت پرې راځي. د سړک تر بشپړېدو وروسته به د ترافيکي ستونزو د حل ترڅنګ، سيمه ييزو اوسېدونکو ته د تګ راتګ اسانتياوې هم رامنځته شي، او ښار ته به يوه ښکلې او معياري بڼه ورکړي.

## کندهار ښاروالۍ د احمدشاهي جادې د پراختيا چارې پيل کړې



کندهار ۲۰

د کندهار ښاروالۍ د ښاري پراختيا، ترافيکي اسانتياوو او ښاري ښکلا د ښه‌والي په موخه، د احمدشاهي جادې د امتداد پروژه د مدد څلورلارې څخه تر ډنډ څلورلارې پورې رسماً پيل کړه.

د جادې په مسير کې واقع هغه کورونه، دوکانونه او ودانۍ چې د پراختيا څنډ بلل کېدل، تخريبېدل پيل شول. ښاروالۍ له ټولو ملکيت لرونکو غوښتنه کړې چې خپل اسناد مرکزي دفتر ته وسپاري، ترڅو د استملاک پروسه په عادلانه او شفاف ډول ترسره شي.

د ښاروالۍ په وينا، د استملاک چارې به د قانون او عدالت پر بنسټ مخته ولاړې شي. ملکيت لرونکو ته به د بازار د اوسني نرخ مطابق مالي تاوان ورکړل شي يا به ورته په عينومنه کې د برابر ارزښت ځمکه ورکړل شي.

ياده پروژه د کندهار د ښاري نظم، پرمختګ او ښکلا لپاره يو مهم ګام ګڼل کېږي، او ښاروالۍ له ښاريانو د بشپړې همکارۍ غوښتنه کوي.

## د ښار ښکلا او سرسبزۍ په موخه د کندهار ښاروالۍ نوې هڅې



کندهار ۲۱

کندهار ښاروالۍ د خپلو پراخو پراختيايي فعاليتونو ترڅنګ د ښار د ښکلا او سرسبزۍ د لاپياوړتيا په موخه خپلې هڅې لا پياوړې کړې دي.

په همدې موخه، تازه د احمدشاه بابا نړيوال هوايي ډګر جادې د منځ ګلدان د اساسي او معياري سمسورولو چارې پيل شوې دي. دغه جاده د ۱.۱.۱. څلور لارې څخه تر ښوراندام کوتل پورې رغول کيږي او موخه يې د جادې منځ د ګلدانونو منظمول، پاکول او زرغونول دي.

شاروالی ولسوالی غوربند ولایت پروان به منظور تنظیف و پاکی شهر زباله هایی شهر غوربند را به صورت دوامدار و به طور شبانه روزی جمع آوری و انتقال می دهد. شاروالی غوربند از تمام شهروندان و کسبه کاران غوربند تقاضا دارد که به منظور حفاظت از پاکی محیط شهر و جلوگیری از شیوع امراض گوناگون و خطرناک از انداختن زباله ها در داخل جویچه های کنار سرک ها جلوگیری نموده و زباله هایی را که تولید می نمایند در جای های معین آن بیاندازند.

غوربند ۲۲

د روزګان -ترينکوټ ښاروال د ښار د ناحيو له علماوو، قومي مشرانو او سپين‌ږيرو سره د ښاريانو د ستونزو اورېدو او حل لپاره ناسته ترسره کړه. ښاروال ګډونوالو ته ډاډ ورکړ چې د ښاروالۍ دروازې د خلکو پرمخ خلاصې دي او رهايشي کورونو د صفايي محصول راټولولو اړوند يې د اميرالمؤمنين د حکم يادونه وکړه، چې له مخې يې د پنځو برخو څخه دوه معاف او درې بايد تحويل شي، څو ښاري پروژې پيل شي. ګډونوالو د ښاروالۍ له هڅو مننه وکړه او د نورو همکاريو غوښتنه يې وکړه.

روزګان ۲۳

## دربيمې ناحيه کې د انجيل ښاروالۍ اداري ودانۍ د چت کانکريټ کولو چارې په چټکۍ سره روانې دي



هرات ۲۴

هرات-انجيل ښاروالۍ پراختيايي بودجې څخه د يادې ښاروالۍ ودانۍ ۱۷۶۶۸۰۰ افغانۍ په ارزښت د جامي متين ساختماني او سړک رغولو شرکت له لوري جوړېږي.

د يادې ودانۍ پروژې شاوخوا ۵۰ ٪ چارې مخته تللې او د پروژې کار د شرطپاڼې او د قرارداد د مندرجو سره سم په منظم ډول په لوړ کيفيت روانې دي او ټاکل شوې ده چې قراردادي شرکت له لوري د دربيو تقويمي مياشتو په ترځ کې بشپړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شي.

کمیته تنظیم بازار شاروالی نیلی ولایت دایکندی، در جریان نظارت هفته‌وار خود، غرفه‌های خودسرانه ایجادشده در سمت جنوب غرب چوک گل بادام را جمع‌آوری نمود. طبق اطلاعیه، افرادی که بدون هماهنگی اقدام به جابجایی غرفه در این ساحه نمایند، غرفه‌های‌شان توسط کمیته ضبط خواهد شد.




دایکندی ۲۵

## د داوطلبۍ خبرتيا

کندهار- پنجوايي ښاروالۍ غواړي چې خپل ملکيت حمام(۱۴) نمرو درلودونکي پنجوايي بازار کې موقعيت لري، چې د شرطپاڼې مطابق د يو کال لپاره په اجاره ورکوي. ټول هغه اشخاص چې غواړي په داطلبۍ کې ګډون وکړي، خپل غوښتنليکونه دې د ۱۴۰۴ کال د ميزان مياشتي(۲۷) مې نېټې څخه د عقرب مياشتي تر(۱۹)نېټې پورې د پنجوايي ښاروالۍ مديريت دفتر ته د وسپاري او شرطپانه کتلای شي. د اجاري سرجمع څخه لس٪ تضمين نقداً اخيستل کېږي، داوطلبي د۱۴۰۴ کال د عقرب مياشتي پر(۱۹) نېټې د دوشنبه په ورځ د سهار ۱۱ بجو د هيئت په حضور کې صورت نيسي او آفرونه پرانستل کېږي، لازياتو معلوماتو لپاره زموږ سره په لاندې شمېره اړيکه ونيسئ.

۰۷۰۰۵۰۹۱۹۸

کندهار ولایت

## د پل علم ښاروالۍ له لوري د ښار د ناحیو ترمنځ فوټسال سیالۍ پیل شوې


لوگر ۲۶

د پل علم ښاروالۍ له لوري د لوگر د بدني روزنې او ورزش امریت سره په همغږۍ د پل علم ښار د دریو ناحیو ترمنځ د فوټسال سیالۍ نن ورځ د یو لړ ځانگړو مراسمو په ترځ کې پیل شوې. چې د پل علم ښاروالۍ مسؤولینو، گذر وکیلانو، د ناحیــو گذرونو د ټیمونو لوبغاړو او گڼ شــمېر د ورزش مینوالو په کې برخه اخیستې وه.

**کار کانکریت‌ریزی سرک عمومی ولسوالی نهرین ولایت بغلان، بــه طول ٦٦٢ متر و عرض ۱۰ متر آغاز شده است و مسؤولان شاروالی نهرین روزانه از رونــد کار این پروژه به‌گونــه منظم نظارت می نمایند.**


بغلان ۲۷

**جلســه تشریح پروســه تنظیم و توسعه مجدد شهری از سوی وزارت شهرسازی و مسکن، (یک شنبه ۴ عقرب) در شاروالی تالقان ولایت تخار، با حضــور شــاروال، وکلای گــذر ناحیه ششــم، متنفذین و انجنیران اعزامی برگزار شد.**
**در این نشســت، مراحل توسعه مجدد شهری، تنظیم زمین، ترتیب اسناد تخنیکی و تفاوت آن با بهسازی شــهری توضیح داده شد و حاضرین با گنجانــدن یک کیلومتر مربع از ناحیه ششــم در پلان تفصیلی شهر موافقت کردند.**


تخار ۲۸

## گردیز ښاروالۍ خبرتیا

گردیز ښاروالۍ ټولو په شرایطو برابرو دواطلبانو ته بلنه ورکوي، چې خپلو مربوطه وسایطو او ماشینري لپاره( ۲۵۱٦۰) لیتره ډیــزل او(۵۳۲۰) لیتره پطرول تېلو تهیه کولو قرارداد په دواطلبــي کې گډون وکړي او مربوطه چاپ شــوې شرطنامه او افــر نقل د اعلان نشرولو څخه تــر (۱۴) څوارلس ورځو پورې د گردیز ښــاروالۍ خدماتو او تدارکاتو مدیریت څخه تر لاسه کړي.
افر تضمین نقدي او بانکي تضمین په توگه اخیستل کیږي، د دواطلبي مجلس د ولایت قدرمن مقام کې دایرېږي، انټرنیټي او ناوخته رسیدلي افرونه د قبول وړ نه دي.

پکتیا ولایت

**شاروالی فیض‌آباد ولایت بدخشان، جاده‌ای به‌نام «کوچه دروازی‌ها» را به طول ۲۳۵ متر و عرض ۴ متر با هزینه ۵۰۰ هزار افغانی از بودجه مشارکتی شــاروالی و مردم محل ســاخته و به بهره‌برداری سپرده است.**
**ایــن کوچه حدود ۳۵۰ خانواده را به سرک عمومی وصل می‌کند و باشــندگان از ساخت معیاری این جاده استقبال کرده‌اند.**


بدخشان ۲۹

## د میدان ښار ښــاروالۍ اداري ناســته ترسره شوه

د میدان ښار ښاروالۍ اداري ناسته د ښاروال ملا راز محمد فاروقي په مشرۍ د ښــاروال صاحب په دفتر کې ترسره شــوه. د تنظیف امریت ته لارښوونه وشوه چې د ښــار د ټولو ناحیو، په ځانگــړي ډول د بازار، ښوونځیو او روغتیایي مرکزونو په شاوخوا کې د کثافاتو د انتقال پروسه چټکه او منظم کړي.

میدان وردگ ۳۰

**هلمند-لښکرگاه ښاروالۍ د ښار شپږمې ناحیې اړوند سیمه کې څه کم ۱ جریب امارتي ځمکه د خپلسري تصرف څخه وژغورله. غیرقانوني تاسیسات نړول شوي او خلکو ته د قانوني چلند سپارښتنه شوې. ښاروال هدایت ورکړی چې د غصب مخنیوی جدي تعقیب شي.**

هلمند ۳۱

## غزني ښــار د حیات اباد سړک د کانکریټ چارې بشپړې شوې


غزني ۳۲

د غزني ښــاروالۍ ریاست او د ملگرو ملتونو دفتر په مالي مرســته د غزني ښــار د لومړۍ ناحیې اړوند د حیات‌اباد سړک د کانکریټ چارې په بشپړ ډول پای ته رسېدلي دي. یاده پروژه د ۷ میلیونو افغانیو په لگښت د غزني ښاروالۍ ریاســت او د ملگرو ملتونو د دفتر پــه مالي ملاتړ پلې شوې ده.

## جلسه گزارش دهی شاروالی چاریکار برگزار گردید


چاریکار ۳۳

شاروالی شهر چاریکار به منظور ایجاد شفافیت و اطمینان مردم این شهر، برنامه‌ای گزارش دهی از فعالیت‌های انجام شــده ربع دوم سال ۱۴۰۴ را در حضور متنفذین، وکلای گــذر، نمایندگان اصنــاف، جوانان و رســانه‌ها در تالار جلسات شاروالی چاریکار برگزار نمود.

حافظ راز محمد یاسر، شــاروال چاریکار در این برنامه به اهمیت شفافیت و نزدیکی ملت با نظام اشاره کرد و اعلام نمود که عواید شاروالی چاریکار در ربع دوم سال جاری به بیش از ۳٦ میلیون افغانی رسیده است که نسبت به سال گذشته بیش از ٦۵ درصد افزایش را نشان می‌دهد.

مدیران بخش‌های عواید، تخنیکی و مسلکی، حکومتداری شهری و سایر بخش ها، دست‌آوردها و کارکردهای خویش را با استفاده از سلاید و تصاویر تشریح کردند.

**تیم انجنیری شاروالی محمودراقی به همکاری مدیریت ناحیه اول شاروالی محمودراقی به منظور تثبیت محصول صفایی، ساحات تجارتی بازار ده باباعلی مربوط ناحیه اول شهر محمودراقی را سروی کردند.**

کاپیسا ۳۴

## غزني ښاروالۍ ریاست له ۳۲۷ کسانو څخه ازموینه واخیستله


غزني ۳۵

د غزني ښاروالۍ ریاست د کارکوونکو چارو مدیریت له لوري د ښاروالۍ د بستونو ډکولو په موخه د ۳۲۷ ګډونوالو څخه ازموینه واخیستل شوه.

د کارکوونکو چارو مدیر ښاغلي قادري وویل ښاروالۍ ریاست هڅه کوي چې د وړتیا امانت او شفافیت پر بنسټ د کارکوونکو د جذب بهیر پرمخ یوسي.

**جلسه اداری تحت ریاست الحاج مولوی حبیب الله قانع شاروال شهر سرپل در تالار جلسات مقام ریاست شاروالی دایر گردید و در آن شاروال شهر سرپل بر اتحاد و هماهنگی میان کارمندان، اجرای به‌موقع وظایف محوله و ارائه خدمات بهتر به شهروندان تأکید ورزید.**


سرپل ۳۶

## هرات ښاروالۍ د پنځلسمې ناحیې اړوند د کاریزک څخه د شیدایي تر بازاره پورې د کانال د جوړولو پروژې چارې رواني دي


هرات ۳۷

دغه پروژه ۲۲۰۰ متر اوږدوالی لري، چې د هرات ښاروالۍ اداري پرمختیایي بودجې څخه د ۱۵،۵ میلیون افغانیو په ارزښت د پلي کېدو په حال کې ده.

قراردادي شرکت مسؤولین وايي؛ چې یاده پروژه ۵۰ ٪ فزیکي پرمختګ کړی او عملي چارې يې په چټکۍ سره رواني دي.

د ویلو ده، چې د کانال د جوړولو یاده پروژه پنځلسمه ناحیه کې د خورا مهمو او بنسټیزو پروژو څخه ده، چې د سطحي اوبو د مدیریت او د سړک د ویجاړېدو د مخنیوي په برخه کې خورا مؤثره ده.

## د داوطلبۍ خبرتیا

د جلال آباد ښار شپږمې ناحیې اړوند د (۱۰۵۰) متر مربع ځمکې قرارداد، د ننګرهار ولایت کې ټولو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي چې په دې پروسه کې ګډون وکړي. علاقه‌لرونکي کولای شي د اړوندې شرطپاڼې سافټ کاپي د ښاروالۍ ریاست د تدارکاتو امریت څخه ترلاسه کړي او خپل آفرونه د شرطپاڼې د شرایطو او د تدارکاتو اصولو او لایحو مطابق په سرټرلي ډول د اعلان له خپرېدو څخه تر آفر پرانیستې نیټې پورې د جلال آباد ښاروالۍ ریاست ته وسپاري.

د داوطلبۍ نېټه: ۱۴۰۴ هـ ش کال، د عقرب د میاشتې ۱۹ نېټه د سهار ۱:۰۰ بجې.

یادونه: ناوخته او انټرنېټي آفرونه د منلو وړ نه دي.

آدرس: د جلال آباد ښار اوله ناحیه، د جلال آباد ښاروالۍ ودانۍ څلورم پوړ اول نمبر اطاق.

د لازیاتو معلوماتو لپاره لاندې شمېرې سره اړیکه ونیسئ:

۰۷۷۸۱۲۲۲۲۱

۰۷۰۰۵۰۹۱۹۸

ننګرهار ولایت

**فراه ښاروالۍ د ښار ښکلا او زرغونتیا لپاره هڅې ګړندۍ کړې دي. د صلح پارک لپاره د اوبو سولري سیستم فعال شوی، او د سرسبزۍ ټیم ورځ-شپه کار کوي ترڅو پاک او سمسور چاپېریال برابر شي.**


فراه ۳۸

**د هلمند-لښکرګاه ښار اته ګونو ناحیو کې تېره شپه د چارو ټیمونو له کارونو نظارت ترسره شو. د تنظیف مدیر محمد نسیم سحر په وینا، ټیمونه فعاله وو، ستونزمنو ساحو، مسؤولینو ته لازم هدایت ورکړل شو او ټولو ته سپارښتنه وشوه چې د ښار پاک ساتلو ته جدي پاملرنه وکړي.**


هلمند ۳۹

## کندهار ښاروالۍ خبرتیا!

ښاروال د لارښوونې او جدي هدایت له مخې، ټولو محترمو ښاریانو ته خبر ورکول کېږي،

کندهار ښاروالۍ درې مهمې پروژې تطبیق کوي!

لومړۍ: مدد څلورلارې څخه تر ډنډ څلورلارې پورې د احمدشاهي جادې وصل.

دویمه: ډنډ څلورلارې څخه تر باغ پل پورې د جادې پراخول.

درېیمه: میرویس شاندیز څخه د بای پاس پراخول او د بولدک له سړک سره نښلول.

یادې درې پروژې نه یوازې د کندهار ښار د ښکلا او منظم ښاري جوړښت لپاره حیاتي ارزښت لري، بلکې د خلکو د تګ راتګ، سوداګرۍ او اقتصادي پراختیا لپاره هم ستره لاسته راوړنه ګڼل کېږي.

په دې تړاو ټولو هغو ښاریانو ته خبر ورکول کېږي، چې کورونه، هټۍ، مارکېټونه او ځمکې یې د یادو پروژو په مسیر کې واقعې وي،

هغوی دې ژر تر ژره د خپلو ملکیتونو له اړوندو اسنادو سره یو ځای کندهار ښاروالۍ ته مراجعه وکړي.

د یادو پروژو د چټک تطبیق او ښاري خدمتونو د لا ښه پرمختګ په موخه، د کندهار ښاروالۍ له لوري د تعمیرونو د عادلانه معاوضې ورکولو بهیر روان دی، نو له ټولو ملکیت‌لرونکو څخه غوښتنه کېږي چې خپل اسناد حاضر کړي او د خپلو تعمیرونو معاوضه سمدستي ترلاسه کړي.

همدارنګه؛ د هغو ځمکو په عوض کې چې د یادو پروژو په مسیر کې راځي، د کندهار ښاروالۍ لخوا به د ځمکې د اوسني بازار ارزښت په نظر کې نیولو سره، په عینومېنه ښارګوټي کې بدیله ځمکه ورکول کېږي.

یاده دې وي؛ چې دا مهال د یادو درېیو پروژو د موانع د له منځه وړلو او عملي چارو بهیر په چټکۍ روان دی، نو له ټولو درنو ملکیت‌لرونکو څخه غوښتنه کېږي، چې د ښاري خدمتونو د نه ځنډېدو او د پروژو د پر وخت بشپړېدو په موخه خپل اسناد ژر تر ژره کندهار ښاروالۍ ته وسپاري او د خپلو قانوني پروسه بشپړه کړي.

کندهار ولایت

**فراه ښاروالۍ د ښار پاک ساتلو هڅې ګړندۍ کړې دي. د وروستۍ یوې میاشتې په ترځ کې ۶۷۹ موټره (شاوخوا ۳۳۹۵ م³) کثافات راټول او انتقال شوي. ښاروالۍ له ښاریانو غوښتي چې د پاک ښار په ساتنه کې همکاري وکړي.**


فراه ۴۰

**ریاست شاروالی فیض‌آباد تحت نظارت عبدالواجب دانشیار، سرپرست این اداره، به هدف نظم شهری و سهولت رفت‌وآمد، عملیات پاک‌کاری را در نواحی اول، دوم و سوم آغاز کرد. در این روند، جاده‌ها و پیاده‌روها از کراچی‌ها، غرفه‌ها و اشیای مزاحم پاک‌سازی گردید. مسؤولان شاروالی از دست‌فروشان و دوکانداران خواسته اند تا از گذاشتن اجناس در مسیر عمومی خودداری نمایند در غیر آن، وسایل‌شان بدون برگشت ضبط خواهد شد.**


بدخشان ۴۱

## جلال‌اباد ښاروالۍ دریمه ناحیه کې د ویالو د بیارغونې چارې جریان لري


ننګرهار ۴۲

جلال‌اباد ښاروالۍ د داخلي عوایدو په مرسته د ۱۴۰۴ مالي کال د پروژوي خدمتونو په لړ کې د دریمې ناحیې اړوند د پنځم واټرپمپ په ساحه کې د سړک د پراخوالي، رویه کښي او اساسي جوړونې په موخه د ویالو د بیارغونې چارې جریان لري. جلال‌اباد ښاروالۍ د ساختمان امر انجنیر شوکت شاکر او ورسره مل تخنیکي پلاوي د پروژې له کارونو لیدنه وکړه او د شرکت مسؤولینو ته یې لازمي جدي سپارښتنې وکړې ترڅو کارونه په معیاري ډول ترسره شي.

## جلال‌اباد ښاروالۍ دریمه ناحیه کې د سړک د اسفالټ (قیریزۍ) چارې جریان لري


ننګرهار ۴۳

جلال‌اباد ښاروالۍ د داخلي عوایدو په مرسته د روان ۱۴۰۴ مالي کال د پراختیایي پروژو په لړ کې د دریمې ناحیې اړوند د عربانو ګولايي څخه تر داودزي پلازې پورې د ۴،۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د سړک اسفالټ (قیریزۍ) چارې جریان لري.

جلال‌اباد ښاروالۍ د ساختمان امر، د سړک جوړونې انجنیر جان آغا امیني او ورسره تخنیکي پلاوي د قیریزۍ له کارونو لیدنه وکړه او د شرکت مسؤولینو ته یې لازمي سپارښتنې وکړې.

په یاده پروژه کې د ۸۸۰ مترو په اوږدوالي او ۱۴ مترو په لنډوالي د سړک قیریزي او د ۱۵۰ مترو په اوږدوالي د ویالو بیا رغونه شامله ده. په نږدې راتلونکي کې به یې کارونه بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

جلال‌اباد ښاروالۍ په روان ۱۴۰۴ مالي کال کې ۳۵ لویې او وړې پروژې د شاوخوا ۵۵۰ میلیونو افغانیو په ارزښت پلان کړې چې په تدریجي ډول به په بېلابېلو ناحیو کې پلي شي.

## هرات ښاروالۍ د پنځلسمې ناحیې اړوند د کاریزک څخه د شیدایي تر بازاره پورې د کانال د جوړولو پروژې چارې روانې دي


هرات ۴۴

دغه پروژه ۲۲۰۰ متر اوږدوالی لري، چې د هرات ښاروالۍ اداري پرمختیایي بودجې څخه د ۱۵،۵ میلیون افغانیو په ارزښت د پلي کېدو په حال کې ده.

قراردادي شرکت مسؤولین وايي؛ چې یاده پروژه ۵۰ ٪ فزیکي پرمختګ کړی او عملي چارې یې په چټکۍ سره روانې دي.د ویلو ده، چې د کانال د جوړولو یاده پروژه پنځلسمه ناحیه کې د خورا مهمو او بنسټیزو پروژو څخه ده، چې د سطحي اوبو د مدیریت او د سړک د ویجاړېدو مخنیوي په برخه کې خورا مؤثره ده.

## فراه ښاروالۍ د ښاري انضباط مدیریت ته نوی مدیر ور وپېژندل شو


هرات ۴۵

فراه ښاروالۍ د ښاري انضباط مدیریت ته نوی مدیر ښاغلي عین الدین احساس، د دغه ریاست د ښاري حکومتولۍ د امر له لوري خپل پرسونل ته ور وپېژندل شو.

## خوست ښاروالۍ درې نیم ټنه تاریخ تېر توکي وسوځول


خوست ۴۶

یاد خوراکي او غیرخوراکي توکي د خوست ښاروالۍ د مارکېټونو د تنظیم عمومي مدیریت له لوري د روانې ربعې په جریان کې د ښار له بېلابېلو برخو راټول شوي وو، چې د دوشنبې په ورځ د ټاکل شوي هیئت په شتون کې وسوځول شول.

**کمیته‌های تنظیم بازار و تنظیف شاروالی نیلی، (دوشنبه ۵ عقرب ۱۴۰۴)، همراه با نماینده مقام ولایت، از ۱۲ نانوایی، وضعیت تنظیف و پیاده روهای شهر نظارت به‌عمل آوردند. در جریان این بازدید به متخلفین از جمله مسدودکنندگان جویچه‌ها هدایت داده شد تا فوراً آن‌را باز کنند. همچنان نانوایی‌ها مکلف شدند مطابق نرخ نامه جدید فعالیت نمایند، در غیر آن با آنان برخورد قانونی صورت خواهد گرفت.**



دایکندی ۴۷

## ځلورمه حصه کې د مهم سړک هوار کاري بشپړ او د ټرافیکو پر مخ پرانیستل شو




د هلمند- ګرشک ښاروالۍ د ښاري نظم د ټینګښت او د خلکو د تګ راتګ د اسانتیا په موخه، د ځلورمه حصه د نمرو د مخ سړک چې د اوږدې مودې راهیسې د ډول ډول موانعو له امله بند شوی و، د ښاروالۍ د هڅو او جدي تعقیب وروسته بېرته خلاص شو.

یاد سړک چې د خلکو لخوا غصب شوی و، د ښاروالۍ لخوا یې ټول غیر قانوني خنډونه لرې کړل شول، او د تفصیلي پلان مطابق د هوار کاری چارې بشپړې شوې.

یاد سړک د ۴۰ متره سړک څخه د مستریانو د شهرک سره وصل شو.

## مزارشریف ښار کې د ټرافیکي څراغونو د عصري او ډیجېټلي کېدو لړۍ




د ښاري نظم د تأمین، د ټرافیکي پېښو د مخنیوي او د ازدحام د راکمولو په موخه، د مزارشریف ښاروالۍ لخوا د بلخ د ټرافیک مدیریت په همغږۍ د ښار په نولسو (۱۹) سیمو کې د ترافیکي څراغونو د عصري او ډیجېټلي کولو لړۍ روانه ده.

یاده پروژه د مزارشریف ښاروالۍ د پراختیایي بودجې له ۷ میلیونه افغانیو په لګښت تمویلېږي، او پکې د ټرافیکي څراغونو عصري او ډیجېټلي کول، د پایو رنګول، د سړکونو کرښې اینبودل (رود مارکینګ) او د یو کال لپاره د ساتنې او مراقبت برخه شامله ده.

بخش تنظیف شاروالی چاریکار به هدف بهبود وضعیت محیط زیست و نظافت شهری، زباله‌ها را از زباله‌دانی‌های شهر جمع آوری و به محل معین انتقال دادند.

کاپیسا ۵۰

## مرکز تجارتی زیرزمینی "مزارمال" با سرمایه گذاری ۲۴۷ میلیون افغانی در شهر مزارشریف افتتاح شد





مرکز تجارتی بزرگ و معیاری "مزارمال" در سمت شمال روضه مبارک، جاده ناصر خسرو بلخی شهر مزارشریف توسط شاروالی مزارشریف به‌گونه رسمی افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

مولوی محمد نسیم عابد، معاون شاروالی مزارشریف گفت: الحمد اللّٰه در سراسر کشور به سطح آسیا و منطقه پروژه های بزرگ انکشافی و زیربنایی در جریان است. چند سال بعد شما شاهد یک تحویل بزرگ را در چهره و سیمای شهر مزارشریف مشاهده خواهید کرد.

استاد محمد جاوید مایار، رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی گفت: این مرکز در مساحت بیش از سه جریب زمین و با هزینهٔ ۲۴۷ میلیون افغانی اعمار گردید و شامل ۲۰۰ باب دکان معیاری می‌باشد که با معیارهای روز تجارتی ساخته شده است.

## کار طبقه سپری یا پرایم کوت سرک از چهارراهی کفایت الی گذشته از سرک حلقوی پروژه S در شهر مزارشریف آغاز گردید




کار طبقه اساسی سپری یا پرایم کوت سرک از چهارراهی کفایت الی گذشته از سرک حلقوی پروژه S از بودجه انکشافی شاروالی مزارشریف با حضور حافظ عبدالرحمن همت شاروال مزارشریف و استاد محمد جاوید مایار رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی آغاز گردید که در آینده های نزدیک کار قیرریزی لایه اول آن نیز آغاز خواهد شد.

حافظ عبدالرحمن همت شاروال مزارشریف بر رعایت کامل معیارهای فنی، استفاده از مواد باکیفیت و پیشبرد کار با دقت و سرعت لازم تأکید نمود. وی هدایت داد تا پروژه مطابق قرارداد و در زمان تعیین‌شده تکمیل گردد تا سهولت‌های بهتر برای رفت‌وآمد شهروندان فراهم شود.

استاد محمد جاوید مایار، رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف گفت: پروژه عریض‌سازی و قیرریزی سرک از چهارراهی کفایت الی گذشته از سرک حلقوی (پروژهٔ S) به طول ۱۷۵۰ متر و عرض ۱۵ متر در دو لین با هزینه مجموعی ۷۲ میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی مزارشریف تطبیق می‌گردد.


الحاج استاد محمد جاوید مایار، رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف از روند کار در چوک فردوسی، سرک پسته مزار مربوط ناحیه اول و سرک عقب بلندمنزل‌های ناحیه هفتم شهر نظارت نموده و از شرکت‌های تطبیق‌کننده خواست تا پروژه‌ها را در زمان معین و با کیفیت مطلوب به پایان برسانند.




کار کانکریت ریزی دو سرک در گذر سوم ناحیه هشتم شهر به هزینه ۱۰ میلیون افغانی توسط شاروالی مزارشریف به همکاری دفتر خدمات پروژوی سازمان ملل متحد آغاز گردید. سرک های مذکور دارای ۸۰۶ متر طول و ٦ متر عرض می‌باشد که روزانه برای ۹۰ تن زمینه اشتغال زایی فراهم شده است.




فاز اول پروژه تنویر جاده در ولسوالی خُلم با هزینه بیش از یک میلیون افغانی تحت نظر کمیسیون تنظیم شهری شاروالی ولسوالی خُلم به همکاری مردم شهر خُلم با حضور مسئوولین این ولسوالی تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شد.



## د پروژو د کیفیت او چټکتیا په برخه کې جدي اوسئ



فراه ۵۶

فراه ښاروالۍ د تخنیکي او مسلکي چارو امر د اړوند امریت انجنیرانو سره په ناســته کې د روان مالي کال د پروژو پر کیفیت، چټکتیا او پر وخت ترسره کېدو باندې ټینګار وکړ.

نوموړي په خپلو خبرو کې وویل؛ د ښاروالۍ د هرې پروژې د بریا اساس د ښــه کیفیت، پر ټاکل شوي وخت اجرا او دقیقې څارنې په مراعاتولو کې نغښــتی دی. هغه له ټولو انجنیرانو وغوښتل چې خپلو دندو ته لا زیات پام وکړي، د پروژو له بهیــر څخه جدي نظارت وکړي، د همکارۍ فضا پیاوړې وســاتي او خپل ورځنۍ چارې د ښې همغږۍ او ورورولۍ په روحیه مخته یوسي.

باید وویل شي؛ د فراه ښاروالۍ په روان ۱۴۰۴ مالي کال کــې ۲۸ لویې او وړې پروژې پلان شــوې دي چې نږدې ۱۸۰ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي.

## ګردېز ښار د قصابانو له فعالیتونو څارنه وشوه



پکتیا ۵۷

د څارنې په لړ کې د دې صنــف کاروباریانو ته روغتیایي سپارښتنې وشوې او یاد صنفونو فعالیت کوونکي وهڅول شــول څو د نرخپاڼې له مخې د انصاف په حد کې خپله غوښه وپلوري او فعالیت ځایونه پاک او پلې لارې خلاصې وساتي.

باید ووایو؛ ګردېز ښار کې د خوراکي او غیر خوراکي توکو بیو کنترول لپاره د ولایت مقام په مشرۍ د ګردېز ښاروالۍ او نورو ولایتي ادارو په غړیتوب ګډ کمیسیون فعالیت کوي، چې له کړنو یې ښاریان بشپړ رضایت لري.

حافظ رازمحمد یاسر، شاروال شهر چاریکار با رئیس و اعضای فدراسیون تکواندوی ولایت پروان در دفتر کاری‌اش دیدار نمود و در این دیدار در مورد دست‌آوردها، برنامه های آینده و چالش‌های موجود در مسیر توسعه ورزش در شهر چاریکار بحث و تبادل نظر کردند.

کاپیسا ۵۸

## شـــاروال یکه‌ولنگ با رئیس دفتر سازمان ملل متحد دیدار کرد

داکتر سید حسین جاوید، شاروال یکه‌ولنگ با خانم سوسن رئیس دفتر سازمان ملل متحد در افغانستان و خانم یاســمین رئیس ولایتی این سازمان در ولایت بامیان و هیئت همراه‌شان در دفتر کارش دیدار نمود.

در ایــن دیــدار، پیرامون گــسترش همکاری‌های مشترک، بهبود خدمات شــهری و حمایت از برنامه های توانمندســازی زنان بحث و تبادل نظر صورت گرفت. هیئت سازمان ملل از بخش‌های مختلف شهر به‌ویژه بازارچه صنایع‌دستی بانوان بازدید کرد. بانوان این بازارچه از حضور و پشــتیبانی هیئت استقبال نمودند.

شاروال یکه‌ولنگ ضمن خوش‌آمدگویی به هیئت ملل متحد بر تداوم همکاری‌ها در راســتای رشد اقتصاد شهری و تقویت نقش زنان در جامعه تأکید کرد.

هیئت ســازمان ملل ضمن قدردانی از فعالیت‌های ارزشــمند شــاروالی یکه‌ولنگ برای حمایت از زنان شاغل وعده همکاری و حمایت بیشتر از برنامه‌های بانوان را سپرد.

بامیان ۵۹

## جلسه نوبتی بورد مشورتی شاروالی میمنه برگزار شد

جلســه نوبتی بورد مشورتی شــاروالی میمنه تحت ریاست الحاج مفتی گل احمد مبشر، شاروال میمنه با اشتراک اعضای بورد در تالار جلســات شــاروالی میمنه تدویر یافت.

شاروال میمنه گفت که شــاروالی میمنه همواره در تلاش اســت تا خدمات بهتر و مؤثرتری را در راستای توسعه و پیشرفت شهری برای شهروندان ارائه نماید.

بر همین اساس از اعضای بورد خواست تا در عرصه طرح و تطبیق هرچه بهتر پروژه‌های انکشافی و عام المنفعه همکاری نمایند.

مدیر عمومی تخنیکی و مسلکی شاروالی میمنه در مورد پروژه سرک حلقوی ۶۰ متری شهر میمنه، پروژه های در حال اجرا و پلان سال مالی ۱۴۰۴ معلومات مفصل به حاضرین ارائه نمود.

فاریاب ۶۰

کندهار-پنجوايي بازار کې یو پلچک تخریب شوی وو، چې پنجوایي ښاروالۍ له لوري په اساسي ډول ورغول شو او ګټې اخستنې ته وسپارل شو.

کندهار ۶۱

## د کرماشي باغیشاه سړک د کانکریټ چارې د تخنیکي معیار سره سمې روانې دي



پکتیا ۶۲

پکتیا-ګردېز ښار ځلورمې ناحیې اړوند، د بالادې سړک په اوږدو د کرماشي باغیشاه په سیمه کې، د ګردېز ښاروالۍ تر چتر لاندې د ملګرو ملتونو دفتر یونپس په مالي ملاتړ د سړک د کانکریټ چارې روانې دي.

دغه پروژه چې، ۸۷۸ متر اوږدوالی لري؛ د کار بهیر یې له تخنیکي معیارونو سره سم پر مخ روان دی او هڅه کېږي څو دا پروژه په معیاري بڼه تر ټاکلي وخت بشپړه شي.

د یادولو وړ ده، چې ســږ کال د ګردېز ښاروالۍ او همکاره بنسټونو پر مټ، د سړکونو، تفریحي پارکونو، ویالو او پلې لارو جوړولو ګڼې پروژې د ښــار په مختلفو سیمو کې پلې شوې او ځینې د پلې کېدو په حال کې دي.

## قره‌باغ ښاروال د بازار د دوکاندارانو له استازو سره وکتل



کابل/قره باغ ۶۳

کابل-قره‌باغ ښاروال د بازار دوکاندارانو له استازو سره ناسته ترسره کړه، د بازار ستونزو په اړه خبرې اومشورو وشوې، د ناستې اصلي موخه د دوکانونو د کرایې د تعرفو وېش وو.

ښاروال د ناستې پر مهال ډاډ ورکړ چې د نافذه قوانینو له مخې به له دوکاندارانو سره لازمه همکاري وکړي.

همدارنګه؛ د ترانسپورت امر سره د ټرافیکي ستونزو د حل او د بازار د هډو لپاره د مناسب ځای د برابرولو په اړه خبرې وشــوې، ترڅو په نږدې راتلونکي کې یو منظم بازار او له ستونزو پاک ښار ولرو.

سپین‌بولدک ښاروالۍ کې د اصلاحي او عقیدتي زده‌کړو مجلس ترسره شو. ښاروال مولوي لطف‌الله لطیفي په مشرۍ، د کارکوونکو لپاره د اسلامي اخلاقو، صداقت، نرم‌چلند او د ظاهري بڼې اړوند لارښوونې وشوې، څو دینې پوهه او خدمتونو کیفیت لوړ شي.

کندهار ۶۴

## ولایت مقام مخته چوک د نوي مصنوعي چمن په ایښــودلو سره لا ښکلا پیدا کړه



کندهار ۶۵

کندهار ښــار د ښــکلا او زرغونتیا د پراخولو په موخه، د کندهار ښــاروالۍ د سرســبزۍ امریت په هڅو دا ځل د ولایت مقام مخ ته چوک د نوو نیالګیو، زینتي ګلانو ترڅنګ د نوي مصنوعي چمن په ایښودلو سره لا ډېر ښایسته او زړه راښکونکی شو.

یاد آمریت پلان لري، چې د ښار نور چوکونه هم په همدې ډول زرغونه او ښایســته کړي، ترڅو د ښــار ښــکلا او د زرغونتیا بهیر لا دوام پیدا کړي او ښاري چاپېریال ته نوی رنګ او ښکلا ورکړي.

د دې ترڅنګ د سرســبزۍ امریت له لوري د ځلورمې او څوارلسمې ناحیو اړوند ساحو کې د احمد شاهي جادې وروستی برخه چې پاتاب لري، د دواړو اړخونو په اوږدو کې د نــوو نیالګیو په ایښــودلو او منظمولو ترڅنګ په چمن ایښودلو سره زرغونه او ښکلې شوې ده.

## د محمودراقي ښاروالۍ اداري غونډه د ښاري خدمتونو د ښه والي په موخه ترسره شوه



کاپیسا ۶۶

د خدمتونو د کیفیت لوړولو او د ښــاري چارو د چټکتیا په موخه، د محمودراقي ښــاروالۍ نوبتــي اداري غونډه د محمودراقي ښاروال حافظ مولوي شیراز عبدالله په مشرۍ او د ښــاروالۍ د کارکوونکو په ګډون د غونډو په تالار کې ترسره شوه.

د محمودراقي ښاروال ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ، د اداري سمون، ګډو هڅو او ښاریانو ته د لا غوره خدمتونو د وړاندې کولو پر اهمیت ټینګار وکړ.

## کار یک سرک بــه طول (۳۱۲) متر و عــرض (۱۶) متر در ناحیــه چهارم شــهر میمنه ولایت فاریاب از ســوی اداره شاروالی میمنه تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شد.



فاریاب ۶۷

مفتی گل احمد «مبشر» شاروال میمنه در جریان افتتاح این سرک گفت؛ این سرک از (۶۰) سال بدین‌سو به دلیل عدم تطبیق پلان شهری، بر روی رفت‌وآمد عابران پیاده و وسایط نقلیه مسدود بود. اداره شاروالی میمنه، کار پروژه را عملاً آغاز نمود و مطابق با زمان تعیین‌شده، اکنون کار آن تکمیل گردیده اســت که امروز شــاهد افتتاح رسمی آن هستیم.

قابل یاد آوری اســت که سرک لیسه ستاره همراه با سرک شــفاخانه حوزوی شهر میمنه به هزینهٔ مجموعی بیش از (۱۹,۷۹۸,۳۲۱) افغانی از بودجهٔ انکشــافی شــاروالی میمنه کانکریت‌ریزی شــده اســت که طول هر دو سرک (۶۴۲) متر بوده و تنها طول سرک لیسه ستاره (۳۱۲) متر و عرض آن (۱۶) متر است.

جلال‌اباد ښــاروالۍ د داخلي عوایدو په مرسته د ۱۴۰۴ مالي کال د پــروژوي خدمتونو په لړ کې د اتمــې ناحیې د قلعه خیــالي څخه تر جمالي کلي پــورې د «۲۸،۹» میلیونو افغانیو په ارزښــت د «۲،۸» کیلـو مترو پــه اوږدوالي د یوه ســرک د کارونو پرانیسته ترسره کړه.
جلال‌اباد ښــاروال د غونډې ګډونوالو ته د ښــه راغلاســت ترڅنګ د جلال‌اباد ښاروالۍ له لوري د۱۴۰۴ مــالي کال د پــروژوي خدمتونــو په اړه معلومات ورکړل. نوموړي وویل: په روان کال کې مو د داخلي عوایدو په مرســته ۳۵ پروژې ډېزاین کړې چې شاوخوا ۵۵۵ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي. له همکارو موســسو سره ښه همغږۍ لرو چې پر مټ به یې لسګونه پروژې ترسره شي.
یاد سړک چې ټول «۲،۸» کیلو متره اوږدوالی، ۱۰ متره لنډوالی او ۹ پلچکونــه لري د ۲۸،۹ میلیونو افغانیو په ارزښــت به په شــپږو میاشتو کې په اساسي ډول جوړ او ګټې اخیســتنې ته وسپارل شي.



ننګرهار ۶۸

## ترینکوټ ښــاروالۍ د ښار په څلورمه ناحیه کې د څه باندې ۹ میلیونو افغانیو په ارزښــت د ســړک غاړو ویالو اساسي چارې پیل کړې



روزګان ۶۹

روزګان-ترینکوټ ښــاروالۍ د داخلي عوایدو په مرسته د روان ۱۴۰۴ مــالي کال د پراختیایي پــروژو په لړ کې د څلورمــې ناحیې اړوند د محبس جــادې څخه تر هوایي میدان د دوراهــي پورې د څه باندې ۹ میلیونه افغانیو په ارزښــت د سړک غاړو ویالو د اســاسي رغونې چارې پیل شوې.

د ښاروالۍ د مسؤولینو په وینا په دغه پروژه کې د ۱۵۰۰ مترو په اوږدوالي ویالې، ۴۰ متر تول او ۳ متره عرض سره یو پلچک او د ۷۲۰ متره په اوږدوالي سره د جادې د منځ یو ګلدان هم شامل دي. چې په ۱.۵ میاشتو کې به یې کارونه بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## کندهار ښــاروالۍ د پلونو او پلچکونو د جوړولو پروژه رسماً افتتاح کړه



کندهار ۷۰

په یاده پروژه کې د ښــار په مختلفو ناحیو کې ۱۷ پلونه او پلچکونه جوړېږي، چې د عملي کېدو له برکته به د خلکو د تګ راتګ، ډېرې اسانتیاوې رامنځته شي.

نوموړې پروژه چې شاوخوا ٦ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي، تمه ده چې ټولې ســاختماني چارې یې د څلورو میاشتو په موده کې بشپړې شي.

کندهار ښاروالۍ ژمنه ده چې د ښار د زېربناوو د پیاوړتیا او د ښاري اسانتیاوو د پراختیا په برخه کې به خپلې هڅې لا پسې ګړندۍ کړي، ترڅو د ښــار هر اوســېدونکی له یو منظم، پاک، او هوسا چاپېریال څخه برخمن شي.

ننګرهار-خوږیانو ښاروالۍ مسؤولینو لخوا د خوږیانو ولسوالۍ چمتلې ښارګوټي کې د تاریخ تیرو او بې کیفیته توکو د پلورلو کمپاین تر سره شو چې په ترڅ کې یې یوه اندازه تاریخ تیري او بې کیفیته توکي راټول او د لمنځه وړلو په موخه ښاروالۍ ته انتقال شول.

ننګرهار ۷۱

تیم تخنیکـی شـاروالی بامیـان از روند اعمار رستورانت محلی در سر بازار غلغله (چهارشنبه ۷ عقرب) نظارت نمود که اکنون، کار خشـت‌کاری دیوارهای منزل دوم، سـنگ‌کاری چاه فاضلاب، گچ‌کاری منزل اول و نصب مسـطح سقف جریان دارد. در جریـان نظـارت به شرکت قـراردادی هدایت داده شـد تـا در سـنگ‌کاری از مصالح مناسب استفاده کرده و بی نظمی در نصب سقف اصلاح گردد.



باميان ۷۲

شاروالی هرات برنامه حشر عمومی سه روزه را در نواحی پانزده گانه این شـهر، به‌منظور تقویت و ترویج فرهنگ شهرنشینی، امروز (چهارشنبه، ۷ عقرب ۱۴۰۴) با اشتراک اقشـار مختلف مردم در ولایت هرات راه اندازی نموده است.

ملا نعمت‌الله حسـن‌صاحب، شاروال هرات، در آغـاز برنامهء حشر عمومی تنظیفـی، تدویر این برنامـه را در زمینـهء نهادینه‌شـدن فرهنـگ شهرنشینی مؤثر خوانده و بر تداوم برنامه‌هایی از این قبیل تأکید نمود.

ایـن برنامهء حشر عمومی با همـکاری اداره‌های دولتی، سـکتور خصوصی، کمیته‌های شاروالی مکاتـب، تنظیـف خصوصـی و تنظیـف ادارهء شـاروالی هرات راه‌اندازی گردیـده و شماری از بخش‌های سـکتور خصوصی با استخدام کارگر، سبب تقویت کار و تسریع روند پاک‌کاری جویچه های کنار جاده‌ها شدند.



هرات ۷۳

ننگرهار-خوږیاڼـو ښـاروالۍ مسـؤولینو لخوا د خوږیاڼو ولسوالۍ چمتلې ښـارګوټي کې د تاریخ تیرو او بې کیفیتـه توکو د ټولولو کمپاین تر سره شـو چې په ترڅ کې یې یوه اندازه تاریخ تیري او بې کیفیته توکي راټـول او د لمنځه وړلو په موخه ښاروالۍ ته انتقال شول.



ننګرهار ۷۴

## مزارشریف ښار کې د برکت څلورلارې شاوخوا د پراخه شوې سړک قیرریزۍ چارې پیل شوې



بلخ ۷۵

یاده پروژه چې ۱۵۰ متره اوږدوالی او ۳ متره سـور لري، د ښـاري زیربناوو د پیاوړتیا او د ترافیکي ستونزو د حل په موخه عملي کېږي.

ښـاروالۍ د مسـؤلینو په وینا، پروژه کـې د څلورلارې د شـاوخوا سـړک پراخېدو او قیرریزۍ، روښنایۍ، تزیین، رنګمالـۍ، د فلزي کټارو جوړول او نصـب، د ډبرو کار او سمسورتیا چارې شاملې دي.

د پروژې له بشـپړېدو وروسته به د وسـایطو د تګ راتګ ستونزې حل او سـاحې ته به ځانګړې ښایست او ښاري ښکلا ور وبښل شي.

## مهترلام ښاروالۍ د تنظیف د برخې د فعالیتونو دوام



لغمان ۷۶

لغمان-مهترلام ښـاروالۍ د تخنیکي او مسلکي امریت تر چتر لانـدې د تنظیف او سرسـبزۍ مدیریت زیارکښـو کارکوونکو له لوري د دویمې ناحیې اړوند د ویالو، پلچکونو او سړکونو د پاکولو چارې ترسره شوې.

د یادونې وړ ده چې د مهترلام ښـاروالۍ د تنظیف ډله د پلان له مخې ټولو ناحیو ته د پاک چاپېریال سـاتنې په موخه رسیده ګي کوي.

## مزارشریف ښـار کې د کفایت څلورلارې څخه تر S پروژې حلقوي سړک پورې د قیرریزۍ چارې پیل شوې



بلخ ۷۷

د مزارشریف ښـار د کفایت څلـورلارې څخه تر S پروژې حلقوي سـړک پـورې د قیرریزي چـارې د مزارشریف شاروالۍ د پراختیایي بودجې څخه د ۷۲ میلیونه افغانیو په لګښت، د شاروالۍ سکتوري او تخنیکي رئیس په حضور کې رسماً پیل شوې.

د شـاروالۍ د تخنیکي مسئولینو په وینا، د دې پروژې په بشپړېدو سره به د وسایطو د تګ راتګ ستونزې حل، ښاري ښه ښه او د سیمې ښکلا ډېره زیاته شي. همدارنګه د دې سړک له ګټې اخیسـتنې سره به د سیمې د اوسېدونکو ستونزې هوارې او ګڼې اسانتیاوې رامنځته شي.

د مزارشریف شاروالۍ تل هڅه کوي، چې د پراختیایي او معیاري پروژو په پلي کولو سره د ښاري خدمتونو د ښه‌والي او د ښار په ټولو ناحیو کې د متوازن پرمختګ زمینه برابره کړي.

به‌منظور ارتقای شفافیت و سپردن کار به اهل آن، امتحان رقابتی سـه بسـت انجنیری شـاروالی سرپل با اشتراک ۱۵ تن از افراد واجد شرایط در فضای شـفاف برگزار شد. این روند تحت نظارت هیئت مـشترک مقام ولایـت و نهادهای ذیربط صورت گرفت و هدف آن، جذب افراد شایسـته و مسـلکی برای بهبود خدمات شهری عنوان شده است.



ننګرهار ۷۸

## ګردیز ښاروال د کابل لین سـړک بیا ځلې رغونې له کاري جریان څارنه وکړه

ګردیز ښاروال حبیب الله اخندزاده حامد د ښاروالۍ تخنیکـي او مسـلکي خدمتونـو عمومـي مدیر عبدالحکیم سنګین په ملتیا د کابل ـ ګردیز عمومي سړک په اوږدو کې د پکتیا امنیې قوماندانۍ ته څېرمه سړک د بیا ځلې جوړونې چارې له نږدې وکتلې.

پکتیا ۷۹